د بېځايه شويو کسانو د تعقيب سيستم (ډي ټي اِم) | افغـــــــانستان

# د خلکو د تګ او راتګ په اړه لـــــنډ اوونيز راپور

د ۲۰۲۴ د سپتمبر د ۸ څخه تر ۱۴ سپتمبر، ارقام د شپې تر ۹:۰۰ بجو

## د ډي ټي اِم د خلکو بهر ته د سفر او راتګ د جريان د څارنې په اړه عمومي معلومات


د افغانستان آي اُو اِم د (ډي ټي اِم) پروګرام د خلکو بهر ته د سفر او بېرته راتګ د جريان د څارنې فعاليت ددې لپاره ډيزاين شوی ترڅو د جمهوري اسلامي ايران او پاکستان هېواد سره په سرحدي پولو کې د خلکو د سفر، تګ او راتګ په اړه ښه معلومات وړاندې کړي او ښه پوه شي. په دې فعاليت کې به دوه يو له بل سره تړلي يا اړوند فعاليتونه ترسره کيږي. لومړی د ټولو هغو د سفر په حال کې کسانو شمېرل دي چې له بهر څخه افغانستان ته راستنيږي او يا دا چې د افغانستان څخه بهر ته سفر کوي، چې د جريان د څارنې د شمير په نوم هم بلل کيږي، ترڅو د افغانستان څخه د سفر او افغانستان ته د راستنيدونکو خلکو شمير معلوم کړي. دوهم د ځينو په ډول د ځينو کسانو يا ډلو سره مرکې کول دي چې افغانستان ته د راستنيدو او يا هم د افغانستان څخه بهر ته د سفر په حال کې ترسره کيږي، چې د جريان د څارنې د سروې په نوم هم يادېږي، ترڅو بهر ته د سفر کونکو خلکو او هېواد ته د راتلونکو خلکو د ځانګړتياوو، هڅو او اهدافو په اړه معلومات وړاندې کړي او په اړه يې ښه پوه شي.

دا بايد په پام کې ولرو چې ډي ټي اِم په يوه مشخصه سرحدي پوله کې يوازې د سفر او تحرکاتو تعداد شميري نه مستقل يا انفرادي اشخاص چې هېواد ته راستنيږي او يا د هېواد څخه بهر ته سفر کوي. په دې معنی که چيرې يو شخص په يوه اونۍ کې د هېواد څخه بهر سفر کوي او بېرته هېواد ته راستون شي نو دا به يو وار د هېواد څخه بهر ته د سفر کونکو خلکو په ډله کې شميرل کيږي او دوهم ځل افغانستان ته د راستنيدونکو خلکو په ډله کې شميرل کيږي. د افغانستان څخه بهر ته سفر او بېرته راستنيدل د ډېرو مختلفو دلايلو سره تړاو لري لکه د بهر څخه بېرته راستنيدونکي مهاجرين، د کورنۍ ليدنه، ډيپورټ يا ردمرز کېدل، د اقتصادي دلايلو او تجارت لپاره سفر، روغتيايي ستونزو لپاره سفر، د تعليم او تحصيل لپاره سفر، هغه افغان وګړي چې د مختلفو دلايلو پر اساس سفر کوي، او همدارنګه دوراني سفرونه هم ډېر معمول دي په دې معنی چې ځينې خلک په اونۍ کې څو ځله د تجارت او مختلفو دلايلو پر اساس د هېواد څخه بهر سفر کوي او بېرته راځي. دا راپور د خلک بهر ته د سفر او بېرته راستنيدلو په اړه واضح معلومات وړاندې کوي.

د ډي ټي اِم دا فعاليت په څلورو هغه سرحدي پولو کې چې د عمومي لارو سره وصل دي او همدارنګه د جمهوري اسلامي ايران او پاکستان سره په شپږو نورو سرحدي پولو کې هم ترسره کيږي. په دې اوونيز راپور کې د آي اُو اِم د مختلفو سرچينو څخه معلومات راټول شوي. د معلوماتو د راټولولو د ميتودولوژۍ او په دې اړه د لا ډيرو معلوماتو لپاره ددې راپور آخري پاڼې ته (افغانستان ته د راتګ په اړه د آي اُو اِم معلومات) عنوان ته مراجعه وکړئ.

## د دې اونۍ مهم معلومات

- په دې اونۍ کې هېواد ته د خلکو راتګ او بېرته راستنيدل د هېواد څخه بهر ته د سفر په پرتله ۵۲ سلنه لوړوالی راغلی.
- په دې اونۍ کې هېواد ته د خلکو راتګ او بېرته راستنيدل د تيرې اوونۍ په پرتله ۲۱ سلنه لوړوالی راغلی.
- په دې اونۍ او تيره اونۍ کې د جمهوري اسلامي ايران څخه هېواد ته په بېرته راتګ او بېرته راستنيدلو کې ډير لوړوالی ليدل کيږي. د جمهوري اسلامي ايران څخه د راتګ اصلي دلايل ډيپورټ کېدل او همدارنګه داوطلبانه راتګ شوي، خو د خلکو د راتګ دا لوړوالی کيدای شي هغه افغان وګړيو د بېرته راتګ سره هم تړاو ولري چې د اربعين مذهبي رخصتيو لپاره ايران ته تللي وو. د ايران څخه د خلکو راتګ په جون مياشت کې هم ډير لوړ وو چې د لوی اختر د رخصتيو سره يې سمون درلود.
- د هغه خلکو چې د جمهوري اسلامي ايران څخه راستانه شوي د ورتګ د هدف وړ ځايونه هرات، فراه او تخار ولايتونه وو. او دهغه خلکو چې د پاکستان څخه راستانه شوي د ورتګ د هدف وړ ځايونه کندهار او پکتيکا ولايتونه وو چيرې چې انګور اډه او سپين بولدک سرحدي پول موقعيت لري.
- د جمهوري اسلامي ايران څخه د بېرته راستنيدونکو خلکو د دوه وو څخه دريمه برخه بې اسنادو افغان وګړي وو چې له هغوی څخه څلورمې برخې سره آي اُو اِم مرسته وکړې. د پاکستان څخه د راغلو خلکو څخه يوازې ۶ سلنه خلک بې اسنادو افغان وګړي وو چې د هغوی ۸۸ سلنه خلکو سره آي اُو اِم مرسته کړې.
- د ټولو هغه خلکو څخه چې په دې اوونۍ کې افغانستان ته راغلي ۹۳ سلنه خلک د څلورو اصلي سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي او يوازې ۷ سلنه خلک د شپږو نورو سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي. او همدارنګه د افغانستان څخه بهر ته دسفر کونکو خلکو ۸۸ سلنه خلک د اصلي سرحدي پولو له لارې او ۱۲ سلنه د نورو سرحدي پولو څخه بهر سفر کړی.




وضاحـــــــــت: دا نقشه فقط د وضاحت لپاره کارول شوي ده او هيڅ کله د آي اُو اِم لخوا د کومې رسمي ادعا يا موافقت په معنی نده

**افغانستان ته د راتګ جريان 86,678**

**د افغانستان څخه بهر ته سفر 57,193**

### د ارزول شويو سرحدي پولو په اړه معلومات

په لاندې جدول کې سرحدي پولې د غرب نه د شرق په طرف ترتيب شوي

| سرحدي پولې | هېواد ته بېرته راستنيدل | د هېواد څخه بهر ته سفر |
|---|---|---|
| اســـلام قلعه | 42,079 | 20,752 |
| ابو نصر فراهي | 827 | 1,125 |
| ميـــلـــک | 15,906 | 4,952 |
| بـــــرامچه | 3,534 | 3,396 |
| نظر پوسته | 895 | 1,155 |
| سپين بولدک | 8,252 | 11,530 |
| انـــګور اډه | 427 | 447 |
| غلام خـــان | 459 | 618 |
| پـــتـــان | 143 | 23 |
| تـــورخـــم | 14,156 | 13,195 |

**د راپور د محتوياتو په اړه وضاحت:** د آي اُو اِم د معلوماتو راټول ددې لپاره دي تر څو نړيوالو او داخلي بشري سازمانو ته د افغانستان په سرحدي پولو کې د خلکو د سفر کولو او تحرکاتو په اړه معلومات ورکړي ترڅو هغوی وکولی شي خپلې برنامې او پروژې په ښه توګه پلان او ډيزان کړي. دا راپور دا ارقام او معلومات په دې اوونيز راپور کې په سرحدي پولو کې د خلکو د تحرکاتو په اړه په دې مشخصه شوي دوره يا وخت کې وړاندې کوي. دا ارقام او معلومات بايد په عمومي ډول تجزيه او تحليل نشي او د يوې اونۍ څخه د زياد وخت او د منطقې په کچه د مهاجرت او بيځايه کيدو په اړه تعبير نشي او فقط د همدې مشخصو سرحدي پولو او همدې اونۍ پورې اړه لري.

افغانستان ته د راتګ د جریان په اړه معلومات او د هېوادونو پر اساس*


| معلومات او ارقام | جمهوري اسلامي ایران | پاکستان |
|---|---|---|
| له بهر څخه افغانستان ته د راتګ جریان | 58,812 | 27,866 |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد لري | نـــشته | 683 |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد نلري | 21,445 | 1,615 |
| هغه راستنیدونکي چې آی اُو اِم ورسره مرسته کړې | 5,383 | 1,417 |

د افغانستان څخه بهر ته د سفر د جریان په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس****

| معلومات او ارقام | جمهوري اسلامي ایران | پاکستان |
|---|---|---|
| د افغانستان څخه بهر ته د سفر د جریان په اړه معلومات | 26,829 | 30,364 |


شـــــــرح: د هېواد څخه بهر ته د سفر جریان — له بهر څخه هېواد ته د راتګ جریان

## د افغانستان او جمهوري اسلامي ایــران ترمنځ د مجموعي تګ او راتګ په اړه معلوماتي چارټ (جنوري ۱۰ څخه تر ۱۴ سپتمبر)




| جنوری | فبروری | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | آکست | سپتمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 94,601 | 101,521 | 154,833 | 152,899 | 193,405 | 178,404 | 181,952 | 173,068 | 102,188 |
| 66,126 | 63,273 | 77,825 | 86,391 | 110,710 | 80,923 | 126,835 | 172,243 | 47,998 |

## د افــــــــــــغانستان او پاکـستان ترمنځ د مجموعي تګ او راتګ په اړه معلوماتي چارټ (جنوري ۱۰ څخه تر ۱۴ سپتمبر)




| جنوری | فبروری | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | آکست | سپتمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 52,504 | 79,068 | 84,884 | 94,840 | 126,292 | 116,801 | 133,043 | 109,740 | 56,014 |
| 54,536 | 74,310 | 70,849 | 68,598 | 85,807 | 102,826 | 132,947 | 119,669 | 59,834 |

* د معلوماتو د راټولو د میتودولوژي په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره ددې را پور آخري پاڼې ته د (آي اُو اِم معلومات د راتګ په اړه) عنوان ته مراجعه وکړئ
** اسناد لرونکي راستانه شوي د (پي اُو آر) کارت لرونکي دي د معلوماتو منبع: د پاکستان ډي ټي اِم او د پاکستان د مهاجرینو لپاره د ملکرو ملتونو اداره یا (یو اِن اچ سي آر)
*** دا معلومات د افغانستان آي اُو اِم د راتګ څخه وروسته د بشري مرستو د پروګرام (سی بی پا ها) لخوا راټول شوي دا برنامه د هغه کسانو سره مرسته کوي چې افغانستان ته راستانه شوي وي او دا برنامه د سرحدي او مرزي کاري ګروپ لخوا حمایه کیږي. د سرحدونو کاري ګروپ د آي اُو اِم لخوا رهبري کیږي د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ
**** ډي ټي اِم افغانستان د مختلفو ډلو په اړه چې دې وتو په حال کې دي معلومات نه راټولوي

# له بهر څخه افغانستان ته راتګ

لاندې تحلیل او معلومات د ۵,۳۳۵ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۲,۶۳۹ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۲,۶۹۶ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا ورسره مرکه شوي. په لاندې معلوماتو کې یوازې هغه افغان وګړي شامل دي چې د تګ او راتګ د څارنې او ارزونې د فعالیت د یوې برخې په توګه  ورسره مرکه شوي.

## د جمهوري اسلامي ایــران څخه هېواد ته راغلي خلک

### معلوماتي نقشه




### هېواد ته د راستانه شویو خلکو په اړه معلومات*

عـــــمر

| نارینه | عمر | ښځینه |
|---|---|---|
| 2% | 60+ | 1% |
| 53% | 18-59 | 16% |
| 9% | 6-17 | 7% |
| 6% | 0-5 | 6% |

### هغه ځواب ویونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

د زیانمنو ډلو شتون**

| هغه کورنۍ چې ماشومان بې سرپرستي کوي | هغه کورنۍ چې ښځې بې سرپرستي کوي | مزمن ناروغ او خاص اړتیاوو لرونکي کسان | حامله او شیدې ورکونکې ښځې | مجردې او تنها ښځې | بی سرپرسته ماشومان |
|---|---|---|---|---|---|
| 0% | 2% | 1% | 2% | 1% | <1% |

**د اسناد او مدارک درلودل****

| | |
|---|---|
| آمایش کارت*** | 15% |
| هوشمند کارت*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 1% |
| د اعتبار وړ ویزه | 7% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 46% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 48% |

**هغه موده چې په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 13% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 16% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 71% |

**د جمهوري اسلامي ایران څخه افغانستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| رد مرز یا دیپورت | 56% |
| داوطلبانه راتګ | 37% |
| اقتصادي دلایل | 30% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شئ**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 5% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پوُرې | 9% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 75% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 11% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

### هغه ځواب ویونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

د زیانمنو ډلو شتون**

| هغه کورنۍ چې ماشومان بې سرپرستي کوي | هغه کورنۍ چې ښځې بې سرپرستي کوي | مزمن ناروغ او خاص اړتیاوو لرونکي کسان | حامله او شیدې ورکونکې ښځې | مجردې او تنها ښځې | بی سرپرسته ماشومان |
|---|---|---|---|---|---|
| 0% | 0% | 0% | 0% | 0% | 0% |

**د اسناد او مدارک درلودل****

| | |
|---|---|
| آمایش کارت*** | 0% |
| هوشمند کارت*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 100% |
| د اعتبار وړ ویزه | 1% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 21% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 0% |

**هغه موده چې په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 20% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 44% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 36% |

**د جمهوري اسلامي ایران څخه افغانستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| داوطلبانه راتګ | 75% |
| په هغه ځای کې د نا امنۍ احساس | 36% |
| د کورنۍ لیدنه | 16% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شئ**


| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 10% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پوُرې | 30% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 40% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 20% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

د* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مل مشرانو سره مرکه شوې
د** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دې اساس ممکن فیصدي له ۱۰۰ څخه زیاته شې
د*** د آمایش او هوشمند کارت د جمهوري اسلامي ایران لخوا ویشل کیږی تر څو افغان وګړي وکړی شي هلته د خدماتو څخه برخمن شي.

# له بهر څخه افغانستان ته راتګ

## د پاکستـــــان څخه هېواد ته راغلي خلک

### معلوماتي نقشه




### هېواد ته د راستانه شويو خلکو په اړه معلومات*

| | عـــــمر | |
|---|---|---|
| <1% | 60+ | 2% |
| 21% | 18-59 | 57% |
| 6% | 6-17 | 6% |
| 3% | 0-5 | 4% |

## هغه ځواب ويونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

### د زيانمنو ډلو شتون**

| هغه کورنۍ چې ماشومان يې سرپرستي کوي | هغه کورنۍ چې ښځې يې سرپرستي کوي | مزمن ناروغۍ او خاص اړتياوو لرونکی کسان | حامله او شيدي ورکونکې ښځې | مجردې او تنها ښځې | بی سرپرسته ماشومان |
|---|---|---|---|---|---|
| 0% | <1% | <1% | <1% | 0% | 0% |

### د اسناد او مدارک درلودل**

| | |
|---|---|
| 45% | پي اُو آر، وي آر اِف کارت*** |
| 5% | اي سي سي کارت*** |
| 35% | د اعتبار وړ پاسپورت |
| 41% | د اعتبار وړ ويزه |
| 59% | د اعتبار وړ تذکره |
| 32% | هيڅ يو له پورتنيو اسنادو څخه |

### هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي ياست

| | |
|---|---|
| 43% | د لنډې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه کم |
| 5% | د متوسطې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې |
| 52% | د اوږدې مودې لپاره < د يو کال څخه زياد |

### د پاکستان څخه افغانستان ته د سفر دلايل (۳ عمده دلايل)**

| | |
|---|---|
| 61% | داوطلبانه راتګ |
| 34% | د لنډ سفر څخه بيرته راستنيدل |
| 25% | د نا امنۍ احساس |

### د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| 23% | د لنډې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه کم |
| 12% | د متوسطې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې |
| 62% | د اوږدې مودې لپاره < د يو کال څخه زياد |
| 3% | تر اوسه مې تصميم ندی نيولی |
| 0% | نه غواړم چې ځواب ورکړم |

## هغه ځواب ويونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

### د زيانمنو ډلو شتون**

| هغه کورنۍ چې ماشومان يې سرپرستي کوي | هغه کورنۍ چې ښځې يې سرپرستي کوي | مزمن ناروغۍ او خاص اړتياوو لرونکی کسان | حامله او شيدي ورکونکې ښځې | مجردې او تنها ښځې | بی سرپرسته ماشومان |
|---|---|---|---|---|---|
| <1% | 3% | 18% | <1% | 0% | 0% |

### د اسناد او مدارک درلودل**

| | |
|---|---|
| 2% | پي اُو آر، وي آر اِف کارت*** |
| 6% | اي سي سي کارت*** |
| 0% | د اعتبار وړ پاسپورت |
| 1% | د اعتبار وړ ويزه |
| 84% | د اعتبار وړ تذکره |
| 12% | هيڅ يو له پورتنيو اسنادو څخه |

### هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي ياست

| | |
|---|---|
| 31% | د لنډې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه کم |
| 22% | د متوسطې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې |
| 47% | د اوږدې مودې لپاره < د يو کال څخه زياد |

### د پاکستان څخه افغانستان ته د سفر دلايل (۳ عمده دلايل)**

| | |
|---|---|
| 37% | داوطلبانه راتګ |
| 59% | د کورنۍ ليدنه |
| 34% | د لنډ سفر څخه بيرته راستنيدل |

### د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| 17% | د لنډې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه کم |
| 8% | د متوسطې مودې لپاره < د دريو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې |
| 64% | د اوږدې مودې لپاره < د يو کال څخه زياد |
| 11% | تر اوسه مې تصميم ندی نيولی |
| 0% | نه غواړم چې ځواب ورکړم |

د* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازيتوب د نور ورسره مل مشرانو سره مرکه شوي
د** ځينو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي نو په دې اساس ممکن فيصدي له ۱۰۰ څخه زياته شې
د*** پي اُو آر، وي آر اِف او اي سي سي په پاکستان کې توزيع کيږي

# د افغانستان څخه بهر ته سفر

لاندې تحلیل او معلومات د ۲،۳۵۸ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۸۴۱ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۱،۵۱۷ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه ورسره شوې. لاندې معلومات یوازې د هغو افغان وګړو په اړه دي چې د تګ او راتګ د څارنې او ارزونې د فعالیت د یوې برخې په توګه ورسره مرکې شوې دي.

## جمهوري اسلامي ایـران ته سفر کونکي خلک

### معلوماتي نقشه




### د هیواد څخه د سفر کونکو خلکو په اړه معلومات*

| نارینه | عـــمر | ښځینه |
| --- | --- | --- |
| 2% | 60+ | <1% |
| 78% | 18-59 | 15% |
| 2% | 6-17 | 2% |
| 1% | 0-5 | 1% |

## هغه ځواب ویونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې بهر ته سفر کړی

**د اسناد او مدارک درلودل ****

| | |
| --- | --- |
| د اعتبار وړ پاسپورټ | 100% |
| د اعتبار وړ ویزه | 100% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 77% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 0% |

**هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
| --- | --- |
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 22% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 15% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 15% |
| هیڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر نه دی کړی | 48% |

**د افغانستان څخه جمهوري اسلامي ایران ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)****

| | |
| --- | --- |
| اقتصادي دلایل | 57% |
| د کورنۍ لیدنه | 33% |
| مراسم (مذهبی، ټولنیز) سیاحت | 14% |

**د څومره وخت لپاره به په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شي**

| | |
| --- | --- |
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 25% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 40% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 31% |
| تر اوسه مې تصمیم نه دی نیولی | 4% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

## هغه ځواب ویونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې بهر ته سفر کړی

**د اسناد او مدارک درلودل ****

| | |
| --- | --- |
| د اعتبار وړ پاسپورټ | 100% |
| د اعتبار وړ ویزه | 100% |
| د اعتبار وړ تذکره | 45% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 0% |

**هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
| --- | --- |
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 22% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 27% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 19% |
| هیڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر نه دی کړی | 32% |

**د افغانستان څخه جمهوري اسلامي ایران ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)****

| | |
| --- | --- |
| اقتصادي دلایل | 86% |
| د کورنۍ لیدنه | 11% |
| روغتیایي دلایل | 3% |

**د څومره وخت لپاره به په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شي**


| | |
| --- | --- |
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 11% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 52% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 32% |
| تر اوسه مې تصمیم نه دی نیولی | 5% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوې
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دې اساس ممکن فیصدي له ۱۰۰ څخه زیاته شي

# د افغانستان څخه بهر ته سفر

## پاکستان ته سفر کونکي خلک

### معلوماتي نقشه




### د هېواد څخه د سفر کونکو خلکو په اړه معلومات*

| | عـــمر | |
|---|---|---|
| 3% | 60+ | 1% |
| 72% | 18-59 | 17% |
| 3% | 6-17 | 3% |
| 1% | 0-5 | 1% |

## هغه ځواب ویونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې بې بهر ته سفر کړی

### د اسناد او مدارک درلودل **

| | |
|---|---|
| د اعتبار وړ پاسپورت | 98% |
| د اعتبار وړ ویزه | 98% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 78% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناو څخه | 1% |

### هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 19% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 7% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 29% |
| هیڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر ندی کړی | 45% |

### د افغانستان څخه پاکستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| صحي دلایل | 59% |
| د کورنۍ لیدنه | 36% |
| د استوګنې اصلي ځای ته سفر | 16% |

### د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 87% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 8% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 3% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 1% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 1% |

## هغه ځواب ویونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې بې بهر ته سفر کړی

### د اسناد او مدارک درلودل **

| | |
|---|---|
| د اعتبار وړ پاسپورت | 2% |
| د اعتبار وړ ویزه | 1% |
| د اعتبار وړ تذکره | 86% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناو څخه | 13% |

### هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 37% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 19% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 16% |
| هیڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر ندی کړی | 28% |

### د افغانستان څخه پاکستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| صحي دلایل | 40% |
| د کورنۍ لیدنه | 31% |
| اقتصادي دلایل | 23% |


### د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 22% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 22% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 45% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 11% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوي په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوي
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دې اساس ممکن فیصدي له ۱۰۰ څخه زیاته شي

## هېواد ته د راتګ او د هېواد څخه د سفر ځایونه

| له بهر څخه افغانستان ته راتګ | د افغانستان څخه بهر ته سفر |
|---|---|



## افغانستان ته د راتګ په اړه د آي اُو اِم معلومات

ډي ټي اِم افغانستان، ډي ټي اِم پاکستان، او د آي اُو اِم افغانستان له راتګ څخه وروسته بشری مرستو پروګرام (سي بي پا ها) مختلف میتودونه کاروي ترڅو افغانستان ته د راتلونکو کسانو مختلف ډیموګرافیک معلومات راټول کړي. لاندې د جریان چارټ د راستانه شویو خلکو د فرعی ډلو تر مینځ اړیکې روښانه کوي او دا چې څنګه آي اُو اِم خپل مختلف فعالیتونه او میتودولوژي کاروي ترڅو افغانستان ته د راتګ په اړه دقیق او جامع معلومات ترلاسه کړي.

**1 ټول هغه خلک چې افغانستان ته راغلي**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم افغانستان د هر فرد تګ راتګ، پرته د تابعیت، اسنادو وضعیت، یا په افغانستان کې د پاتې کیدو پلان په پام کې نیولو سره، چې د اسلام قلعه، میلک، سپین بولدک، غلام خان او تورخم سرحدي پولو څخه افغانستان ته راځي شمیري. دا فعالیت د جریان د نظارت په نوم هم پیژندل کیږی. ډي ټي اِم افغانستان خپل پر جریان څارنې سروې فعالیت په کارولو سره د شمیرل شویو کسانو څخه ځینی په نمونی ډول سروې کوي.

**2 افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک**
دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم پاکستان د هغو افغان وګړو شمیر راټولوي چې د سپین بولدک او تورخم له لارې افغانستان ته راستنیږی. بیرته راستانه شوي کسان د هغو افغانانو په توګه طبقه بندي شوي چې اراده لري بیرته راستانه شي او د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې ژوند وکړي، د هغو کسانو په پرتله چې یوازې د سوداګرۍ لپاره سفر کوي یا په موقت ډول افغانستان ته سفر کوي. د جمهوري اسلامي ایران سره په سرحد کې ورته فعالیت نشته.

**3 افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک لري**
دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

**4 افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک نلري**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

د اسنادو لرونکو راستنیدونکي شمیر د پاکستان ډي ټي اِم د معلوماتو څخه ترلاسه شوي. د بې اسناده راستنیدونکو شمیر افغانستان ته له راتګ څخه وروسته بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) له معلوماتو څخه ترلاسه شوي.

**5 هغه خلک چې د آي اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوي**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي نقطو ته نږدې د استوګنې په مرکزونو کې له بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته کوي.


## د هغه افغانانو په اړه معلومات چې ورسره مرسته شوي

د آي اُو اِم افغانستان د افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو پروګرام (سي بي پا ها) د هغو افغان کډوالو په اړه معلومات راټولوي چې سرحد ته نږدې د استوګنې د مرکزونو څخه تیریږی او د آي اُو اِم او سرحدي کاری شریکانو څخه مرسته ترلاسه کوي. د سرحد کاري ګروپ د آي اُو اِم لخوا رهبري کیږی. د نورو معلوماتو او د سرحدي کاري ګروپ په اړه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره، د لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ.


د هغه کسانو مجموعی شمیر چې افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د آي اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوي (د جنوری ۱۰ څخه تر ۱۴ سپتمبر)

### د پاکستان څخه بیرته راستانه شوي

سپین بولدک




تــــــورخم



### د جمهوري اسلامي ایران څخه بیرته راستانه شوي

اسلام قلـــــعه



میلــــــــــــک

